مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۱/۰۵

# ژوند او شور

## (لنډه کيسه)

ورته کتل مې او دئ ګډ وو، لکه مسلسل چې ئې زما د زخمونو سپکاوی کاوه.
ورته و مې ويل: «څکه درته راغلم، چې تول داخل مې د يو رنځ په څېر شور نيولی دئ، شور تباه کړی يم. ما له نړيبه ځان وشکاوه. ما فکر کاوه چې چوپتيا به زما کړاوونه وتړي.»

هغه په پوره حوصله واورېدم، يوه بل رقم موسکا ئې پر شونډو وه، لکه د داسي يو چا چې په هر څه تر تا ډېر پوهېږي ، تر تا بنه پوهېږي.

وې ويل: «ما هم يووخت همداسي کول. ځان مې ګوښه کړ. ما ګومان کاوه چې چوپتيا سپېڅلتيا ده.»

پوښتنه مې تري وکړه: «بنه نو بيا...؟»

جواب ئې راکړ: «چوپتيا زما پر خلاف سوه. کله چې بهر هېڅ شور نه وو، زما فکرونو چيغي وهل زده کړل. يادونه مې د کوڅو تر غالمغال غالمغالي سول. پښېمانی تر ګڼي ګوڼي ډېر راته ږغېدل.» ما سترګي کښته کړې.

هغه ورو ورو زياته کړه: «ته څه کوې چې دننی شور د بهرني چوپتيا په وسيله خفه کړې. دا ناشوني ده. دننی شور يوازي د ژوند په شور سره مهارېږي، ږغونه، خوځښت، تکړ، حضور، خپل کړه!»

ما احساس کړ چې يو څه رانه خلاصېږي، يو څه رانه نرمېږي.

ژر مې بله پوښتنه وکړه: «نو يعني شور مو ږغوري؟»

هغه ودرېد، په باغ کې شا و خوا وکتل، چې له ږغونو ډک وو. د ژوند له شوره.
په تيټ، خو ژور ږغ ئې وويل:

«نه! شور تا نه ږغوري. خو ستا دننی شور مهاروي، مهلت نه ورکوي چې تا ووژني.»

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ